# په تېره زمانه کې د فعل ګردان د جنسيت له پلوه

ليکوال: پوهنيار محمد هاشم اتمانخيل
د ادبياتو او بشری علومو استاد

**لنډيز**

**په تېره زمانه کې دفعل ګردان د جنسيت له پلوه د (لی، لي، لې، له او لې) وروستاړو په وسيله څرګندېږي، چې په ځينو ځايونو کې دښځينه (له او لې ) وروستاړو په مقابل کې د نارينه مفرد او جمعې وګړيو له پاره فعلي وروستاړی صفر کېږي، چې د نوموړو وروستاړو په راتلو سره فعل په تېره زمانه کې د جنسيت له پلوه د لومړي، دوهيم او درېيم وګړيو سره سمون ښيي، خو له ځينو فعلونو سره به د ( يم، يو، يې، يئ، دی، دي، دا، دې)، او له ځينو فعلونو سره به د (وم، وو، وې، وئ، ؤ، وو، وه، وې) د شتون کومکي فعلونه راځي او يا به هم د (شول، کړل، کېدل) کومکي فعلونه او قيدونه به ورسره ملګري کېږي.**

**کليدي وييونه:** تېره زمانه، د **فعل** ګردان، **کومکي فعلونه، اصلي فعلونه او قيدونه، وروستاړي.**